مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۱/۲۵

# غزل

حاجت زما د زخمي زړه د دردولو نه دی
ګل له شبنم سیوا په کاڼو د ویشتلو نه دی

سترګې دې اور شیندي. لمبو باندې دې وسیځلم
اېره اېره زړګی مې نور د سوځولو نه دی

کبرجن نه یم، په منت درته سوالونه کوم
نه شم وئیلی چا ته حال مې د وئیلو نه دی

د منتونو له مزله لا ستومانه نه یم
د مئنتوب مزل هرګز د پرېښودلو نه دی

د عشق له رنځه نه رغیږې پسرلیه! ګوره
د عشق پرهر په زړه ژور د جوړېدلو نه دی

مصطفی پسرلی
15/09/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ